
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# درسامی هنـــــر

## دریم ټولگی





د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ . ش.

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري. پیرودل او پلورل یې په کلکه منعه دی. له سر غړوونکو سره به یې قانوني چلن وشي.
moe.curriculum@gmail.com



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
کور د سولې کور د تورې
دا وطن د ټولو کور دی
د پښتون او هزاره وو
ورسره عرب، گوجر دي
براهوي دي، قزلباش دي
دا هیواد به تل ځلیږي
په سینه کې د آسیا به
نوم د حق مو دی رهبر

دا عزت د هر افغان دی
هر بچی یې قهرمان دی
د بلوڅو د ازبکو
د ترکمنو د تاجکو
پامیریان، نورستانیان
هم ایماق، هم پشه یان
لکه لمر پر شنه آسمان
لکه زړه وي جاویدان
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې وزارت

د تعليمي نصاب د پراختيا د ښوونکو د روزنې معينيت

د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رياست

# د رسامۍ هنر

## دريم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ . ش.

**ليکوالان:**

سيد انور مېچنخېل د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړی.

محمدظاهر طاهري د هنرونو د ديپارتمنت غړی.

**د بيا کتنې کميټه:**

- د سرمؤلف مرستيال محمد غالب الله يار د هنرونو د ديپارتمنت مسؤول.

-نفيسه پوپلزی د هنرونو د ديپارتمنت غړې.

**مسلکي ايډيټ:**

سيد انور مېچنخېل د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړی.

**د تدقيق کميته:**

-سرمؤلف مير نقيب الله د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف د لوی رياست علمی غړی

- پوهندوی دکتور فضل الهادی وزين

- سرمؤلف علی الله جليل د تعليمی نصاب د پراختيا او درسی کتابونو د تاليف رئيس

- د سرمؤلف مرستيال فروزان خاموش د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف د لوی رياست علمی غړې

-د سرمؤلف مرستيال مريم منزه کوهستانی د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف د لوی رياست علمی غړې

**د ژبې اديتور او ژباړه:**

- د سر مؤلف مرستيال محمد قدوس زکوخيل د تعليمی نصاب د پراختيا په لوی رياست کې علمي او مسلکي غړی.

**ديني، سياسي او فرهنگي کميټه:**

- مولوي عبدالوکيل د ديني علومو د ديپارتمنت علمي غړی

- حبيب الله راحل د تعليمي نصاب د پراختيا په رياست کې، د پوهنې وزارت سلاکار.

**د څارنې کميټه**

-دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو د روزنې معين

- دکتور شېر علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول

- دکتور محمد يوسف نيازي د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رياست سرپرست

**کمپوز او ډيزاين:** رحمت الله غفاري

**رسام:** نادر علی يوسفي

**د چاپ د سمون چارې:** محمد کبير حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئيس

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

د لوی خدای ﷻ ډیر شکر دی چې انسان یې په احسن تقویم کې پیدا او هغه ته یې د خبرو کولو توان ورکړ او د علم او فکر پر ګاڼه یې سمبال کړ. ډیر درود دې وي د اسلام پر ګران پیغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ چې د انسانیت ستر ښوونکی دی او د رحمت، لارښوونې او روښنایي پیغام راوړونکی.

ښوونه او روزنه په هره ټولنه کې د بدلون او پراختیا بنسټ دی. د ښوونې او روزنې اصلي موخه د انسان د بالقوه ځواکونو فعالول او د هغه د پټو استعدادونو غوړول دي.

درسي کتاب د ښوونې او روزنې په بهیر کې یو مهم رکن بلل کیږي چې له نوو علمي بدلونونو او پرمختګونو سره اوږه په اوږه د ټولنې له اړتیاوو سره سم تالیف کیږي. درسي کتابونه باید د منځپانګې له مخې خورا بډای وي چې وکړای شي د علومو له نوو لاسته راوړنو سره مل دیني او اخلاقي زده کړې د نوو میتودونو له لارې زده کوونکو ته ولیږدوي.

دغه کتاب چې اوس ستاسو په واک کې دی، د همدغو پورته ځانګړنو پر بنسټ چمتو او تالیف شوی دی. د پوهنې وزارت تل زیار باسي چې په هیواد کې تعلیمي نصاب او درسي کتابونه د اسلامي ښوونې او روزنې او د ملي هویت د ساتلو پر بنسټ جوړ او له علمي معیارونو، نوو روزنیزو میتودونو او د نړۍ له علمي پرمختګونو سره سم چمتو کړي. د زده کوونکو استعدادونه په ټولو اخلاقي او علمي خواوو کې وغوړیږي او په هغوی کې د تفکر او نوښت توان او د پلټنې حس پیاوړی کړي. د خبرو اترو او پیرزوینې د فرهنګ دودول، د هیواد پالنې او د مینې او محبت د حس پیاوړی کول، ښښنه او پیوستون د پوهنې د وزارت نورې غوښتنې دي چې ښایي د لوست په کتابونو کې ورته پام وشي.

درسي کتابونه د ښه او مسلکي ښوونکي له درلودو پرته نشي کولای ټاکل شوي موخې ترلاسه کړي. ښوونکی د ښوونې او روزنې یو مهم جزء او د ښوونې او روزنې د پروګرامونو پلي کوونکی دی. د هیواد له ژمنو او زړه سواندو ښوونکو څخه، چې د تورتم او ناپوهۍ په وړاندې یې جګړه خپله دنده ګرځولې، دوستانه هیله لرم د تعلیمي نصاب په دقیق او مخلصانه تطبیق کې د هیواد ماشومان، نجونې او تنکي ځوانان د پوهې، اخلاقو او معنویت لوړو څوکو ته ورسوي.

د هیواد د زده کړې د نظام بری د خلکو له جدي مرستو پرته امکان نه لري. له دې امله له ټولو قشرونو او د ملت له شریفو خلکو، په تیره بیا له کورنیو او د زده کوونکو له درنو اولیاوو څخه هیله لرم چې د معارف د موخو د لاسته راوړو په برخه کې له هیڅ ډول مرستې څخه ډډه ونه کړي. دغه راز له ټولو لیکوالو، پوهانو، د ښوونې او روزنې له ماهرینو او د زده کوونکو له محترمو اولیاوو څخه هیله کیږي چې په خپلو رغنده نظرونو، وړاندیزونو او نیوکو د درسي کتابونو په لاښه والي کې د پوهنې له وزارت سره مرسته وکړي.

لازمه بولم له ټولو ښاغلو مؤلفانو، د پوهنې وزارت له اداري او فني کارکوونکو او له ملي او نړیوالو بنسټونو څخه، چې د دغه کتاب په چمتو کولو، چاپولو او ویش کې یې زیار ایستلی او مرسته یې کړې، مننه وکړم.

په پای کې له لوی خدای ﷻ څخه غواړم چې په خپله بې پایه مهربانۍ له موږ سره د پوهنې د سپیڅلو ارمانونو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. انه سمیع قریب مجیب.

**د پوهنې وزیر**

**دوکتور اسدالله حنیف بلخي**

# لړلیک


| سرلیك | مخ |
|---|---|
| ۱-ګل رسمول | ۱ |
| ۲- آلوبالو | ۳ |
| ۳- د کتاب رسم | ۵ |
| ٤-د منظمو شکلونو رسم | ۷ |
| ٥-د ناك او انګورو رسم | ۹ |
| ٦-د ګازرو او پیاز رسمول | ۱۱ |
| ۷-د انار او مڼې رسمول | ۱۳ |
| ۸-د کوترې رسمول | ۱٥ |
| ۹- د طوطي رسمول | ۱۷ |
| ۱۰- د کور رسمول | ۱۹ |
| ۱۱-د پنجې او کاچوغې رسمول | ۲۱ |
| ۱۲-د ټوپکې(توپ) رسمول | ۲۳ |
| ۱۳-له کاغذ څخه د ګل جوړول | ۲٥ |
| ۱٤- ټاپه | ۲۷ |
| ۱٥-د ساعت رسمول | ۲۹ |
| ۱٦-د غنمو د وږي رسمول | ۳۱ |
| ۱۷-د کاسې او بشقاب رسمول | ۳۳ |
| ۱۸-د ګلدان رسمول | ۳٥ |

سرليك | مخ


۱۹- د پتنگ د انځور رسمول ..................................... ۳۷

۲۰-دګل ډيزاين کول ................................................ ۳۹

۲۱- د صراحي رسمول............................................. ٤۱

۲۲- دکب رسمول ................................................. ٤۳

۲۳-د ټوپۍ(خولۍ) رسمول........................................... ٤٥

۲٤-د چترۍ رسمول ................................................ ٤۷

۲٥-د شمعې رسمول ................................................ ٤۹

۲٦- د مرغېړي رسمول............................................. ٥۱

۲۷-د طيارې رسمول............................................... ٥۳

۲۸-د رنګونو ترکيب............................................... ٥٥

۲۹-د چرګوړي رسمول.............................................. ٥۷

۳۰- د موټر رسمول ............................................... ٥۹


دويمه برخه:


له ٦۱ څخه تر ٦۷ مخ پورې د ښوونکي لارښود پورې اړه لري.

# د ګل رسمول

**موخه**: زده‌کوونکي به ګل رسم او رنګه کړای شي.

**پوښتنه**

۱- په لاندې رسم کې څه وینئ؟




۳



## فعالیتونه

**درکړل شوي رسم ته په پاملرنې سره ګل په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.**



۱



۲

## کورنۍ دنده

**زده کوونکي دې ورکړل شوي شکل ته په پاملرنې سره، ګل په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړي.**


# آلوبالو

موخه: زده‌کوونکي به آلوبالو رسم او رنګه کړای شي.



پوښتنه

۱- په لاندې رسم کې څه وینئ؟




۲



فعالیتونه

زده‌کوونکي دې د آلوبالو رسم ته په ځېر سره وګوري، بهرني خطونه دې د شکل له مخې رسم او رنګه کړي.



۱



کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پورتنی شکل په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړي.


# د کتاب رسم

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي کتاب رسم او رنګه کړای شي.



پوښتنه


۱-کله مو د کتاب رسم لیدلی دی؟




۳

## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې د کتاب رسم ته په ځیر وګوري، هغه دې په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړي.



۱



۲

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کتاب رسم ته پاملرنه وکړي، د هغه پړاوونه دې په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړي.


# د منظمو شکلونو رسمول

**موخه:** زده‌کوونکي به وکولای شي شکلونه رسم او رنګه کړي.



**پوښتنه**


۱- کله مو لاندې شکلونه لیدلي دي؟





## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې لاندې شکلونه رسم او رنګه کړي.




## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د (١-٢) شکل په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړي.


# د ناک او د انګورو رسم

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي انګور او ناک رسم او رنګه کړي.



پوښتنه

۱- په لاندې شکل کې کومې میوې وینئ؟






## فعالیتونه

زده کوونکي دې د میوو شکل او رنګ ته پاملرنه وکړي، بیا دې رسم او رنګه کړي.



١



٢



## کورنۍ دنده


زده کوونکي دې انګور او ناک پړاو په پړاو رسم او رنګه کړي.

# د گازرو او پیازو رسمول

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي پیاز او گازره رسم او رنگه کړي.


پوښتنه

۱- په لاندې شکل کې کوم سابه وینئ؟




## فعالیتونه

**زده‌کوونکي دې (۱-۲) شکل ته په کتو سره سابه رسم او رنګه کړي.**



۱



۲

## کورنۍ دنده

**زده‌کوونکي دې  سابه په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړي.**


# د انار او مڼې رسمول

**موخه**: زده‌کوونکي به د انار او مڼې رسمول زده کړي.



**پوښتنه**


۱- کله مو انار او مڼه رسم او رنګه کړې دي؟






## فعالیتونه

لاندنیو شکلونو ته په ژورې پاملرنې سره، هغه رسم او رنګه کړئ.



۱



۲

## کورنۍ دنده

انار او مڼه په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.

# د کوترې رسمول

**موخه:** زده‌کوونکي به وکولای شي کوتره رسم او رنګه کړي.

**پوښتنه**


۱- په لاندې انځور کې کوم الوتونکی وینئ؟




۳

## فعالیتونه

**زده کوونکي دې انځورونو ته وګوري، بیا دې هغه په کتابچو کې رسم او رنګه کړي.**



۱



۲

## کورنۍ دنده

**کوتره په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.**


# د طوطي رسمول

**موخه**: **زده‌کوونکي به وکولای شي، طوطي رسم او رنګه کړي.**



**پوښتنه**


**۱- تاسو طوطي لیدلی دی؟**






## فعالیتونه

**زده‌کوونکي دې لاندې انځور په کتابچو کې پړاو په پړاو رسم کړي.**



۱



۲

## کورنۍ دنده


**طوطي په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.**

# د کور رسمول

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي کور رسم او رنګه کړي.

**پوښتنه**

۱- آیا تاسو تراوسه کور رسم کړیدی؟





## فعالیتونه

**لاندې انځور ته په پاملرنې سره هغه په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.**



۱



۲

## کورنۍ دنده

**هر زده کوونکی دې سیوري او رڼا ته په پاملرنې سره خپل کور رسم کړي.**

# د پنجې او کاچوغې رسمول

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي کاچوغه او پنجه رسم او رنګه کړي.


پوښتنه

۱- آیا تاسو تراوسه کاچوغه او پنجه رسم کړي دي؟




## فعالیتونه

لاندې انځور د رسمولو پړاوونو ته په کتو سره، هغه په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.



۲



۱

## کورنۍ دنده

د کاچوغې او پنجې انځورونو ته په کتو، هغه پړاو په پړاو رسم او رنګه کړئ.

# د ټوپکي (توپ) رسمول

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي چې ټوپکی( توپ) رسم او رنگه کړي.


پوښتنه

۱- په لاندې انځور کې څه وینئ؟







د توپ د رسمولو پړاوونو ته په کتو سره هغه په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.



۱



۲




ټوپکی(توپ) د (۱-۲) انځور پړاوونو ته په کتو سره رسم او رنګه کړئ.

# له کاغذ څخه د گل جوړول


موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي چې له کاغذ څخه گل جوړ کړي.



پوښتنه


۱- کله مو له کاغذ څخه کوم شکل جوړ کړی دی؟





## فعالیتونه


له کاغذ، سریښ، رنګه پنسلونو او بیاتي څخه په ګټې اخیستنې سره لاندې شکلونه جوړ او رنګه کړئ.



۱



۲



۳

## کورنۍ دنده


له کاغذ، سریښ، رنګه پنسلونو او بیاتي څخه په ګټې اخیستنې سره یو ګل او یا له خپلې خوښې سره سم یو شکل جوړ او بیا یې رنګه کړئ.

# د سمارق (مرخیړي) رسمول

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي مرخیړی رسم او بیا یې رنګه کړي.

پوښتنه


۱- آیا تاسې پوهېږئ چې لاندې شکل د څه شي دی؟





## فعالیتونه

د مرخېړي د رسمولو پړاوونو ته په کتو سره هغه په خپلو کتابچو کې رسم او بیا یې رنګه کړئ.



١



٢

## کورنۍ دنده

د مرخېړي د رسمولو پړاوونو ته په کتو سره هغه په خپلو کتابچو کې رسم او بیایې رنګه کړئ.


# د ساعت رسمول

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي، ساعت رسم او رنګه کړي.



پوښتنه


۱- په لاندې انځور کې څه وینئ؟






## فعالیتونه

لاندې انځور ته ژوره پاملرنه وکړئ، بیایې پړاو په پړاو په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.



۱



۲

## کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې ساعت رسم او رنګه کړئ.

# د غنمو د وږي رسمول

موخه: لاندې انځور وګورئ، د هغه د رسمولو پړاوونو ته په کتو سره يې رسم او رنګه کړي.

پوښتنه


۱- تاسو کله د غنمو وږی رسم او رنګه کړېدی؟





## فعالیتونه

د (۱ - ۲) انځورونو ته په پاملرنې سره د غنمو وږي په خپلو کتابچو کې رسم او بیا یې رنګه کړئ.




## کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې له خپلې خوښې سره د غنمو وږي رسم او رنګه کړي.


# د کاسې او بشقاب رسمول

موخه: زده‌کوونکي دې بشقاب او کاسه رسم او رنګه کړي.



پوښتنه


۱- تاسې لاندې انځورونه پېژنئ چې د څه شي انځورونه دي؟






## فعالیتونه

د کاسې او بشقاب انځورونه ژور وګورئ، هغو ته په کتو سره له (۱-۲) انځورونو سره سم یې په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.



۱



۲

## کورنۍ دنده


بشقاب، کاسه په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.

# د گلدان رسمول

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي، گلدان رسم او رنگه کړي.


 پوښتنه

۱- په لاندې انځور کې څه وینئ؟




## فعالیتونه

**د (۱-۲) انځورونو پړاوونو ته په کتو سره ګلدانۍ په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.**



۲



۱

## کورنۍ دنده

**د ګلدان انځور په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.**

# د پتنګ د انځور رسمول

**موخه:** زده‌کوونکي به وکولای شي پتنګ رسم او رنګه کړي.


**پوښتنه**

۱- په لاندې انځور کې څه وینئ؟






**لاندې انځور ته ژوره پاملرنه وکړئ، پتنګ رسم او بیا یې رنګه کړئ.**






**یو کاغذي لاسي کار جوړ کړئ او ټولګي ته یې راوړئ.**


# د گل ډېزاين کول

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي چې د گل له انځور څخه په گټې اخيستنو سره هغه ډېزاين کړي.




**پوښتنه**

١- کله مو د گل ډېزاين ليدلی دی؟




## فعالیتونه

**د لاندې انځورونو پړاوونو ته په پاملرنې، گل ډیزاین او رنگه کړئ.**



**اشکال (۱)**



## کورنۍ دنده

**د کتاب له انځورونو سره سم په خپلو کتابچو کې گل رسم کړئ.**


# د صراحي رسمول

**موخه**: زده‌کوونکي به وکولای شي چې صراحي رسم او رنګه کړي.



**پوښتنه**


۱- کله مو صراحي لیدلې ده؟






## فعالیتونه

**د لاندې انځورونو پړاوونو ته په کتو سره هغه په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.**



۲



۱

## کورنۍ دنده

**د صراحي انځور په خپلو کتابچو کې رسم او بیایې رنګه کړئ.**


# د کب رسمول

موخه: د لاندې انځور پړاوونو ته په کتو سره، هغه په کتابچو کې رسم او بیا يې رنگه کړئ.



**پوښتنه**


۱- په لاندې شکل کې کوم شی وینئ؟








لاندې انځور ته په کتو سره کب رسم او بیایې رنګه کړئ.



۱



۲





کب په خپلو کتابچو کې رسم او بیایې رنګه کړئ.

# د ټوپۍ(خولۍ) رسمول

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي ټوپۍ(خولۍ) رسم او رنګه کړي.

پوښتنه


۱- آیا تراوسه موکومه ټوپۍ(خولۍ) رسم کړېده؟



۲

## فعالیتونه

لاندې انځورته په پاملرنې سره ټوپۍ (خولۍ) پر او په پراو رسم او بیایې رنګه کړئ.



۱

## کورنۍ دنده

کومه ټوپۍ(خولۍ) مو چې خوښیږي، هغه رسم او بیایې رنګه کړئ.

# د چترۍ رسمول

موخه: زده کوونکي به د چترۍ د رسمولو او رنګولو توان پیدا کړي.



**پوښتنه**

۱- په لاندې انځور کې څه وینئ؟ او له هغې څخه کومې ګټې اخیستل کېږي؟




۳



## فعالیتونه

د چترۍ د رسمولو پړاوونو ته په پاملرنې، هغه په کتابچو کې رسم او بیا يې رنګه کړئ.



۱



۲

## کورنۍ دنده


په خپلو کتابچو کې چترۍ رسم او بیا يې رنګه کړئ.

# د شمعې رسمول

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي شمع رسم او بيا يې رنګه کړي.

 **پوښتنه**


۱- کله مو شمع رسم کړيده؟





## فعالیتونه

**د شمعې د رسمولو پړاوونو ته په پاملرنې سره، هغه په خپلو کتابچو کې رسم او بیا یې رنګه کړئ.**



۲ ۱

## کورنۍ دنده

**په خپلو کتابچو کې شمع رسم او بیا یې رنګه کړئ.**


# ټاپه

**موخه:** زده‌کوونکي به وکولای شي له گازرې څخه په گټې اخیستنې سره ټاپه کاري وکړي.




**پوښتنه**

**۱- کله مو له گازرې څخه په ټاپه کولو کې استفاده کړې ده؟**



## فعالیتونه

**له لاندې انځور سره سم له ګازرې ټاپه جوړه او د هغې په واسطه ټاپه کاری وکړئ.**



۱

## کورنۍ دنده


**د خپلې کتابچې یو مخ د ګازرې د ټاپې په واسطه ښکلی او ډیزاین کړئ.**

# د طیارې رسمول

**موخه:** زده‌کوونکي به وکولای شي طیاره رسم او بیایې رنګه کړي.


**پوښتنه**


۱- کله مو طیاره رسم کړېده؟






**د  طیارې د رسمولو پړاوونو ته په پاملرنې سره، هغه په خپلو کتابچو کې رسم او بیا یې رنګه کړئ.**




**په خپلو کتابچو کې طیاره رسم او بیا یې رنګه کړئ.**


# د رنګونو ترکیب

**موخه:** زده کوونکي به وکولای شي درې رنګونه سره ګډ او يو نوی رنګ ترې جوړ کړي.




**پوښتنې**

۱- په لاندې انځور کې څه شی وینئ؟



## فعالیتونه

زده‌کوونکي دې اصلي رنگونه سره یو ځای او گډ کړي او له لاندې انځور سره سم دې نوي رنگونه جوړ کړي.




## کورنۍ دنده


درې اصلي رنگونه له خپلې خوښې سره سم گډ او نوی رنگ ترې جوړ کړئ.

# د چرګوړي رسمول

موخه: زده‌کوونکي به وکولای شي چرګوړی رسم او بیا یې رنګه کړي.


پوښتنه

۱- په لاندې انځور کې څه شی وینئ؟







زده‌کوونکي دې د لاندې انځور د رسمولو پړاوونو ته ژوره پاملرنه وکړي چرګوړی دې رسم او بیا رنګ کړي.



۱



۲





د چرګوړي د رسمولو پړاوونو ته په کتو سره، چرګوړی په کتابچو کې رسم او بیایې رنګه کړئ.

# د موټر رسمول

**موخه**: زده‌کوونکي به وکولای شي، موټر رسم او رنګه کړي.

 **پوښتنه**


۱- کله مو د موټر انځور ایستلی دی؟






## فعالیتونه

**زده‌کوونکي دې د لاندې انځور پړاوونو ته پاملرنه وکړي، هغه دې په خپلو کتابچو کې رسم او رنګه کړي.**



۱



۲

## کورنۍ دنده

**له خپلې خوښې سره سم یو موټر په کتابچو کې رسم او بیا یې رنګه کړئ.**

## د رسامۍ هنر د تدریس لارښود

**لومړی لوست (۱) مخ**

**د تدریس وخت یو درسي ساعت**

**لومړی درسي ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| **د لوست سرلیک** | **گل** | |
| **عمومي موخه** | **د گل انځور له رسمولو سره د زده‌کوونکو بلدتیا.** | |
| **(پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې** | - له زده‌کوونکو هیله کیږي، چې د دې لوست په پای کې لاندې موخې ترلاسه کړي.<br>- زده‌کوونکي به د یوه انځور له رسمولو سره بلد شي.<br>- یو شکل به د پنسل په واسطه رسم وکړای شي.<br>- د پنسل په واسطه د یوه شکل له رسمولو سره به یې مینه پیدا شي. | |
| **د لوست مرستندویه توکي.** | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، برس، د رنگ قطی، د اوبو لوښي. | |
| **د ارزونې لارې** | مشاهدوی او عملی | |
| **د تدریس لارې** | ډله ییز او ځانگړي فعالیتونه، پوښتنې، ځوابونه | |
| **لومړني یا مقدماتي فعالیتونه** | سلام اچول، لنډه احوال پوښتنه، د نوي کال مبارکي، د ټولگي تنظیم، حاضرۍ اخیستل، او د دویم ټولگي د رسامۍ هنر د لوستونو یادونه. | **۵** |
| | **د انگیزې پارول**<br><br>**پوښتنه:**<br><br>- آیا کله مو گل رسم کړی دی؟ | **۵** |

| د ښوونکي فعالیتونه | د زده‌کوونکو فعالیتونه | وخت |
|---|---|---|
| - د تختې پر مخ ګل رسم، د هغې د رسم د پړاوونو په اړوند زده‌کوونکو ته معلومات ورکړئ.<br>د رسم د وروستي پړاو د رنګونو په اړوند زده‌کوونکو ته معلومات ورکړئ.<br>د زده‌کوونکو کارونه وڅارئ.<br>د زده‌کوونکو کارونه و ارزوئ، د دوی د زیاتې هڅونې په موخه یې رسمونه پر دیوال وځړوئ. | - زده‌کوونکي د ښوونکي لارښوونو ته ژوره پاملرنه کوي، هڅه کوي، چې هغه عملي کړي.<br>زده‌کوونکي نوی انځور په خپلو کتابچو کې د تختې له مخې رسموي.<br>د رسم وروستۍ مرحله د ښوونکي په مرسته بشپړوي.<br>زده‌کوونکي خپل نظافت ته پاملرنه کوي، خپل لاسونه او جامې له رنګولو ساتي. | ۳۵<br>دقیقه |

**ارزونه**: د خپل ډاډ تر لاسه کولو لپاره چې زده‌کوونکو لوست زده‌کړی او یا نه، د څو پوښتنو په کولو یې ارزوئ.

**کورنۍ دنده**: زده‌کوونکو ته لارښوونه وکړئ ، چې د درسي کتاب له مخې رسم پړاو په پړاو تمرین کړي.

## د ښوونکي لپاره اضافي معلومات

ماشومان له خپل عمر سره سم په لومړۍ دوره (۱- ۳) ټولګیو پورې مینه لري، چې د رسمولو له لارې، رنګول او د لاسي کارونو تر سره کول، د سیمې له ساده موادو لکه: ګلان، لرګي او ډول ډول کاغذونو څخه هغه شیان جوړ کړي، چې د دوی په فکر او ذهن کې وي او نورو ته یې ښکاره کړي. د لومړۍ دورې ښوونکو ته پوره پوره پته ده، چې زده‌کوونکي په دې دوره له ۱۵ څخه ۳۰ دقیقو پورې په ډېره مینه رسمونه باسي، خو له دې زیات یې مینه کمیږي، په دې صورت کې له دې زیات د هنري کارونو دوام ورته ګټه نه لري، بلکې ځینې وختونه ورته زیان رسوي.
د (۷- ۹) کالو په عمر ماشومان ډېر وخت له ځان سره مشغول او مصروف وي، په دې معنا چې ټول شیان له خپلې خوښې سره سم غواړي او تر سره کوي یې له هغه کاره چې ورته ټاکل کیږي، که چیرې د ماشوم، د ماشوم د کورنۍ له ژوند او سیمې سره تړاو ولري، په دې وخت کې یې ماشومان په پوره مینه ترسره کوي. چې زده‌کړه په چټکۍ تر سره کیږي.

## د رسامۍ هنر د تدريس لارښود

**دويم لوست(۳) مخ**

**د تدريس وخت يو درسي ساعت**

**لومړی درسي ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| **د لوست سرليک** | **آلوبالو** | |
| **عمومي موخې** | **په پنسل د آلوبالو له رسمولو سره د زده‌کوونکو بلدتيا** | |
| **(پوهنيزې مهارتي او ذهنيتي) موخې** | - له زده‌کوونکو هيله کيږي چې د دې لوست په پای کې لاندې موخې تر لاسه کړي.<br>- زده‌کوونکي به د آلوبالو له رسمولو سره بلدشي.<br>- يو شکل به رسم کړای شي.<br>- د يوه شکل له رسمولو سره به مينه پيدا کړي. | |
| **د تدريس لارې** | ډله ييز او ځانګړې فعاليتونه، پوښتنې، ځوابونه | |
| **دلوست اړين توکي:** | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشير، برس، د رنګ قطی، د اوبو لوښی. | |
| **د ارزونې لارې** | مشاهدوی او عملی | |
| **لومړني يا مقدماتي فعاليتونه** | سلام اچول، لنډه احوال پوښتنه، د ټولګي تنظيم، حاضرۍ اخيستل، دکورنۍ دندې کتنه، د تېر لوست يادونه او له نوي سره ارتباط ورکول. | **۵** |
| | **د انګيزې پارول**<br>**پوښتنه:**<br>- آيا تا سو کله آلوبالو رسم کړيدی؟ | **۵** |

| د ښوونکي فعالیتونه | د زده‌کوونکو فعالیتونه | وخت |
|---|---|---|
| پر تختې آکوبالو رسم او د رسمولو د پړاوونو په اړوند زده‌کوونکوته معلومات ورکړئ. - د رسمولو د وروستي پړاو او رنگونو په اړه معلومات ورکړئ. - د زده‌کوونکو کارونه و ارزوئ د دوی د هڅونې لپاره رسمونه پر دیوال و ځړوئ. | - زده‌کوونکي د ښوونکي له لارښوونې سره هڅه کوي چې هغه عملي کړي. - زده‌کوونکي د تختې له مخې رسم په خپلو کتابچو کې وباسي. - د کار کولو پر وخت نظافت ته پاملرنه کوي، لاسونه او کالي نه رنگوي. | ۳۵ دقیقه |

**ارزونه**: د خپل ډاډ تر لاسه کولو لپاره چې زده‌کوونکو لوست زده‌کړي او یانه، له زده‌کوونکو څوپوښتنې کړي، هغوی، ارزوي.

**کورنۍ دنده**: زده‌کوونکو ته لارښوونه وکړئ، چې پر او په پړاو د درسي کتاب له مخې یو شکل رسم کړي.

## د ښوونکي لپاره اضافي معلومات

۱- ماشومان رسمولو او لاسي کارونو جوړولو ته وهڅوئ، هڅه وکړئ چې ځینې هنري فکرونه او اندیښنې پکې تحریک شي.

۲- ځینو تفریحي کارونو لکه، سیر علمي، کتابتونونو ته تگ، د کیسو ویلو او نورو پواسطه په دوی کې انگیزې را پیدا کړئ.

۳- کله چې ماشومان تیارشول، هغوي پریږدئ، چې ژر ژر هنري کارونه پیل کړي.

٤-په ابتکاري یا نوښتگرو فعالیتونو د نورو مضمونونو له موضوعاگانو څخه گټه واخلي.

۵- په ټولگي دې دوی د فکر او مفکورې د پراختیاله یاده له خبر واترو کارواخلئ.

٦- هغوی مصروب وساتئ، په مقابل کې هغه ستونزې چې د دوی د کار په وړاندې خنډونه جوړوي له مخې لرې کړئ.

۷- له ستونزو او مشکلاتو څخه یې خبر اوسئ، داسې شرایط رامنځ ته کړئ، چې د دوی د پر مختگ سبب شي.

## د رسامۍ هنر د تدریس لارښود

**دریم لوست (۵) مخ**

**د تدریس وخت یو درسي ساعت**

**دویم درسي ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| **د لوست سرلیک** | **کتاب** | |
| **عمومي موخې** | **د کتاب له رسمولو او رنګولو سره د زده‌کوونکو بلدتیا** | |
| **(پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي موخې)** | -له زده‌کوونکو هیله کېږي چې د دې لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي.<br>- زده‌کوونکي به له رسمولو او رنګولو سره آشنا شي.<br>یو انځور به رسم او رنګ کړای شي.<br>- له رسامي او رنګولو سره به یې مینه او علاقه پیدا شي. | |
| **د تدریس لارې** | ډله ییز او ځانګړې فعالیتونه، پوښتنې، ځوابونه | |
| **د لوست اړین توکي** | کتاب، کتابچه، قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، برس، د رنګ قطۍ، د اوبو لوښې. | |
| **د ارزونې لارې** | مشاهدوی او عملي | |
| **لومړني یا مقدماتي فعالیتونه** | سلام اچول، لنډه احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، حاضري اخیستل، د کورنۍ دندې کتنه، د تېر لوست یا دونه او له نوي سره ارتباط ورکول. | **۵** |
| | **د انګیزې پارول**<br>**پوښتنه:**<br>- آیا تاسو کله کتاب رسم کړی او رنګه کړی دی؟ | **۵** |

| وخت | د زده‌کوونکو فعالیتونه | د ښوونکي فعالیتونه |
| --- | --- | --- |
| ۳۵ دقیقه | - زده‌کوونکي د ښوونکي لارښوونو ته ژور پاملرنه کوي، هڅه کوي، چې هغه عملي کړي. زده‌کوونکي نوی انځور په خپلو کتابچو کې د تختې له مخې رسموي. د رسم وروستۍ مرحله د ښوونکي په مرسته رنگوي. د رسم کولو پر وخت خپل نظافت ته پاملرنه کوي، چې کالي او لاسونه يې رنگ نه شي. | - د تختې پر مخ گل رسم، د هغې د رسم د پړاوو په اړوند زده‌کوونکو ته معلومات ورکړئ. د رسمولو د وروستي پړاو او رنگونو په اړه زده‌کوونکو ته معلومات ورکړئ. - د ټولو زده‌کوونکو د کارونو څارنه وکړئ. - د زده‌کوونکو کارونه وارزوئ او د دوی د هڅونې په موخه يې رسمونه پر دیوال وځړوئ. |

**ارزونه**: د خپل ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې زده‌کوونکو لوست زده‌کړی او یا نه، د څو پوښتنو په کولو يې ارزوئ.

**کورنۍ دنده**: زده‌کوونکو ته لارښوونه وکړئ چې د کتاب له مخې رسمونه پړاو په پړاو رسم او رنگه کړي.

## د ښوونکي لپاره اضافي معلومات

په دې عمر کې زده‌کوونکي په چټکۍ سره غواړي، چې د خپل کار نتیجه ووینې، له دې امله باید داسې فعالیت ورته غوره شي، چې په لږ وخت کې ترسره کېږي.

هغه ماشوم چې له (۷ - ۹) کالو پورې عمر لري، له بېلا بېلو رنگو سره ډېره مینه پیدا کوي. هغوی پرېږدئ، چې له خپلې خوښې سره رسمونه رنگ کړي، باید یادونه وکړو چې ماشومان په لویو غړو حاکمیت لري، خو پر وړو غړو په ځانگړې ډول پر گوتو سم کنټرول نه لري، له دې امله د ډېرو ظریفو انځورونو د رسمولو او رنگولو له عهدې څخه نه شي وتلی، ځکه چې د ښکلا خوښونې حس د دې عمر په ماشومانو کې رشد نه دی کړی، باید ښوونکی تل دا حقیقت په پام کې ولري، چې د یوه ظریفه او ښکلي رسم هیله ورڅخه ونه لري، د ماشومانو له اولیاوو (مور- پلار) څخه زموږ هیله دا ده چې د خپلو ماشومانو لپاره لاسي کارونه له بازار څخه وانخلي، همدارنگه هیڅکله يې سترې خور او ورو ته اجازه ور نه کړئ ، چې وړو ماشومانو ته کار دستي جوړه کړي، په دې صورت کې ماشومان د نورو په تمه کېږي او خپل باور له لاسه ورکوي، بیکاره کېږي او ابتکار د عمل قوه له لاسه ورکوي.

**ښاغلي ښوونکي**: په دې کتاب کې مو د تدریس د لارښود له بیا لیکنو څخه ډډه کړېده.
تاسې کولی شئ چې له دې لارښود څخه د ټولو لوستو په تدریس کې گټه واخلئ.

# گرانو زده کوونکو

ستاسې د تعلیمي کال پای ته ورسید په دې کال کې تاسې ډېرشیان زده کړل اوس چې د ژمي د رخصتي پیل دی او د څلورم ټولګي کتابونه د مکتب د ادارې له خوا درکړل شویدي په غور او دقت ولولي، ترڅو په څلورم ټولګي کې تاسې له مشکلاتو او ستونزو سره مخامخ نه شئ. د دې کتابونو په لوستلو به تاسې ډېرې بریاوې ترلاسه کړی.

د ژمي رخصتي تاسي ته ډېره مناسبه موقع ده؛ ځکه چې تاسې کولای شي چې د خپلو عملي او نظري مهارتونو سطحه لوړه کړي. تاسې کولی شي چې ښکلي منظري او ډېر ښایسته ځایونه وګوري او هغه په خپل ذهن کې وساتي او په خپل کور کې یې په انځورولو پیل وکړئ چې دا کار به ستاسې سره په عملي مهارتونو کې مرسته وکړي.

ستاسي بریا تل زموږ هیله ده



د هرات جامع جوما ت



په قندهار کې د میرویس نیکه مقبره



په کابل ښار کې د دارالامان تاریخي ماڼی



د افغانستان د ښکلي طبیعت انځور